تېپيزي

# ستا له کوږدې نه چې خبر شوم!



Ketabton.com

لیکنه او ترتیب: جاوید ریحان

لیکنه او ترتیب: جاوید ریحان

۱۳۹۸/ ۲ /۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په ریښتیا دې لیونی کړم

کراني ښکلا دې لیوني کړم

د مخ ځلا دې لیونی کړم

ناز او ادا دې لیونی کړم

دومره په ناز او ادا ماخــله قدمونه

ختم به ستا د زړګې زور شي

دا خپل پیغور به دې پیغور شي

بل به په تـا د میني اور شي

د کبر جام به دې نسکور شي

مخ به دې تور شې په ما مه کوه ظلمونه

ښایسته خندا دې ګلورینه

په ټولو ښکلو کې حسینه

تا به ساتم د زړه په وینه

زه درسره کوومه مینه

له خندا شینه لیونی په ځــــــان کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميني دې وچ لکه ګنی کړم

په اور يې سوي سپیلنی کړم

بس ستا سوچونو پخوانی کړم

ښایست دي داسي لیونی کړم

سبق مه پرېښي دی ټپي ځان ته کـــوومه

د هغي دنګي جنی زارشم

لاچې لونګي جنی زار شم

په مينه رنګي جني زار شم

د غنم رنګي جنی زارشم

زما يې خــوښ په ناز خوړي خــبري دينه

دا اوږد صبر په ما مه کړه

بس دومره جبر په ما مه کړه

ګوزار د تـبر په ما مه کړه

خندا د کـبر په ما مه کړه

په زړه غــمجن يمه خيري درتــه کوومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ما به هم دغسي کيږيٍ

ټول ارمانونه مې رژيږي

غماز مې يو يو راډيريږي

او ستا به زما نه ګيله کيږي

زه به د کور په خلکو څه وکړم مينه

زما د زړه زخم دوا که

نن راته ټينګه غيره راکه

دغه يو حق مې را ادا که

کاکا دا مشره لـور دې راکه

زه به دې زوم شم ستا به ډير قدر کوومه

چې په اسانه پوره نه شوه

ګرانه وه ګرانه پوره نه شوه

ښه شوه چې تا نه پوره نه شوه

بس کړه 'ريحانه'' پوره نه شوه

دا اوســــــنۍ ياراني ټولي داسي ديـــنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه دردونو ليونى کړم

د چا فکرونو ليونى کړم

بس ستا يادونو ليونى کړم

ډيرو غمونو ليونى کـړم

د ګيلو ډک زړګى به دي دنــيا نه ځمه

نوري خيري به ورته وکړم

د ژوند ترخي به ورته وکړم

ډيري ګيلي به ورته وکړم

اوښکو جرګي به ورته وکړم

که خوب کې راغــــله په ژړا به ورته شمه

په کور او کلي کې خوره شوه

پټه ترمنځ مو وه ښکاره شوه

د ميني جوړه مو کيسه شوه

هغه پري ښه ډيره غوسه شوه

کومي يــوي ورته زما صـــفت کـــوونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په تا به نه خفه کیدلی**

**له تا به لـري اوسیدلی**

**بل ستا خیره مې هیریدلی**

**که زړه مې ستا نه صبریدلی**

**ولي بـــه زه په زیارتونو ګرځــــــیدمه**

**په نیمه لار کې ودریــدلې**

**په ناز خواره چې دي کتلې**

**ښایسته نقاب کې ځلیدلې**

**په غټو سترګو دې کتلې**

**کافـــري زړه کې دي هـــیڅ رحــم نه راتلنه**

**ارمان به درشي بیا به ژاړې**

**واپس راځې کله توکاړې**

**بیا به دغم وهې رمباړې**

**ورځه رقیب سره خولاړې**

**خدای به دي مړه کړئ زه خیري درته کوومه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر تاوانونه دې راکړي

بلا دردونه دي راکړي

په زړه زخمونه دي راکړي

سپک پيغورونه دي راکړي

که مې په ياد وي ستا به نه کړم تپوسونه

همدغه ژوند کې نارضا يو

مونږه اخته په څه سزا يو

لږ په خندا ډير په ژړا يو

چې ما او تا سره جدا يو

يکــښې د نوري دنيا څه پـــــروا لرونه

په څه له ما نه پټيدله

له مانه لـري تښتيدله

نوي جوړه کې شرميدله

د کور په لور چې تيريدله

په شاه يې وکـــتل ذرئ ورئ يې کـرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مانه څومره چې نفرت کړي

هسي برباد به ښکلي وخت کړي

هسي به ځان هم په زحمت کړي

مغروره دومره بد عادت کړي

د لـري راشم بي ديـدنه درنه ځمه

ته څومره ظلم په ما خوار کړي

ولي په څه راته انکار کړي

اخر به ما ګراني په دار کړي

ما يې د ورور له بڼو زار کړي

دا غټې باڼه يې خپلي خور ته شـوي دينه

شپې دي اوږدې خوبونه نشته

زما پـه دې خوبونه نشته

تر نيمي شپې خوبونه نشته

بس تـر هغې خوبونه نشته

چې مې ګريوان په اوښکو لوند نشي مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما سره مينه په ريښتيا کړې

منمه ما سره وفا کـړې

په پستو شونډو چې خندا کړې

چې ماته مخ او مور ته شا کړې

ما وارخطا کـــړې زړه مې ووهې تــوپــونه

زما له حاله نـه خبرېږې

جانان مې بل ته روانېږي

په حال مې يوالله پوهيږي

زړه مې سلګۍ کوي خوږيږي

نه مې هـــيريږي ستا ژړا کې جــــوابونه

اى په والله ژوند مزه نه کا

نور په ريښتيا ژوند مزه نه کا

بغير له تا ژوند مزه نه کا

وګوره دا ژوند مـزه نه کا

چې ته د بـــل شوې زه دې هير کړمه مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځانه ورک دې په ریښتیا کړم
وروستي پیغور دې په ژړا کړم
کافره زه دې یک تنها کړم
خپلي لیلا نه دې جدا کړم
په ډک ټیلر دې مولا ووهـــــه میینه

ای ګرانه زیری مې درباندې
ارمانه زیری مې درباندې
قربانه زیری مې دربانـدې
"ریحانه" زیری مې درباندې
پلار مې په بل هلک کوژده کړمه میینه

په ما د خپله ځانه ګرانه
چې یو ذره نه شي پریشانه
ستا به ګیله کیږي زما نه
زه به ګیله وکړم له چا نه
تقـــدیر مې خپل دي چې ټکري راکـــوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غم لړلي زنده ګي ده

دا چې ترمنځ مو جداې ده

خبره لږ څه خـطري ده

زمونږه ډيـره غريبې ده

پلار دې کنجوس دې راته نه دي راکوينه

زما خو مرګ ورته اسان دی

دا خپل جانان راته حيران دی

نيمګړی پاتې مې ارمان دی

دا چې شکيدلی مې ګريوان دی

يار مې روان دي اوس دبل غيږي ته ځينه

د رقيبانو پاليسي ده

دا چې ترمنځ مو جداې ده

په غم لړلي زنده ګي ده

دغه زمونږ بدنصيبې ده

چې ته د بل شوي زه يوازي پاتي شومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل زړه دي صبر نور له ما کړه

غم دي خو ځان پري ابتلا کړه

کوشش کوه رب دې باچا کړه

اخيري ټينګه غيرړه راکـړه

په ما ميبن محصله نه مې درکـوينه

په کې ليدلي مې حيا وه

ما خوښه کړې په ريښتيا وه

مينه نو څه خو بس همدا وه

زه پـه هغي هغه په ما وه

د خداي رضا وه موږ يې بيل د يو بل کړونه

په پيغور ماته يې زما ملا کړه

دې ځينو نورو خو همدا کړه

دولت يې خوښ ماته يې شا کړه

ستا زنده ګې يې هم تباه کړه

په ما يې هم بـل کړه په دې دنـيا اورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازارول خو داسي نه وي

زړه درلودل خو داسي نه وي

لاس اچول خو داسي نه وي

دا هيرول خو داسي نه وي

څنګه چې تا زه د خپل زړه نه هيره کړمه

رب دي ساته د بدنظره

لږ خو راګوره د زړه سره

ترمنځه مينه موښکاره شوه

مونږ په قسم کړې وعده وه

قسم دې مات کړ هير دي کړل کړي لوظونه

په دروازه چې داخليږي

شي پښه نيولي ودريږي

د څه خبري نه ډاريږي

د ماما ځويه ولي ډاريږي

خلک خو خپلو کره هر وختي راځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژوند راضي یمه تر پایه

د ناستي ځای مې ورته ښایه

د زړګي حال مې ورته وایه

زما د څه نصیب کړه خدایه

عالم خندا کړي زما اوښکي په مـخ ځینه

په ما میین زیات قدردان دی

دلته راغلی ښکلی ځوان دی

ماته خو سم ګل د ریحان دی

خومره ښایسته زما جانان دی

په ما ډیر ګران دی زه یې ډیر قـدر کوومه

پلار مې همیش غوسه په تا وې

په مور خبره که دنیا وی

وروستۍ خبره به مې دا وې

که څوک خفه که څوک رضا وې

جانانه ستا په نوم به عمر تیــرومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبث وختونه په مـا تیر شو

زړه مې ستا مینه کې راګیر شو

بس ستا یادوونه څومره ډیر شو

ماته دې څه ویل ما نه هیر شو

ما ته هـــــغه خـبره بیا وکــــړه مینه

ښایسته بانه یې لکه غشي

اوږده بانه یې لکه غشي

کاږه بانه یې لکه غشي

تـیره بانه یې لکه غشي

په زړه مې ولږید غلبیل غلبیل یې کـــړمه

په محصلي کې خفه نه شي

په جداي کې خفه نه شي

مسافري کې خفه نه شي

په تنهاي کې خفه نه شي

زما یادونه خـــو جوړه درسره دیـنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر بدنصيبه له پخوا یې
دا ته اخته په څه سزا یې
همیش له مخکښې وارخطا یې
"ریحانه" ولې په ژړا یې
څوک چې مالداره یار لرې داسې به وینه

چې کاپې کړې دې له چا دی
زما خوښ شوې په رېښتیا دی
بس مناسب درته همدا دی
جانانه دویم نوم دې وفا دی
خو هیڅ د وفا درپکښې نشته عـادتونه

زنده ګۍ څه ده بې له تانه
نیمګړې پاتې شوې ارمانه
زه پوهـیدم په تا جانانه
ته خو د بل وې له پخوا نه
زه لیونی دربـاندې هـــــــسې نازیـدمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خوشحالۍ دې راته راکړي

خیر په زارۍ دې راته راکړي

پاس په بلۍ دې راته راکړي

سپینه خولګۍ دې راته راکړي

نور کار به پرېږدم غلامي به يې کـوومه

په ما دې سرې لمبې کړې پورې

پـه مړو سترګو چې راګوري

پوهيږم کار به راله ګـوري

سترګي دي مه توروه نـوري

د تروری لورې د ســـــيالۍ دې وويستمه

چې شونډي سري دې شي رايادې

سترګي ډیوي دې شي رايادې

خوږي شيبې دې رايـادې

چې خاطري دې شي رايادې

په زړه مه راشي بيا جـوړه جوړه غمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر زيات خفه و ژړېدلو

زړه مې له غمه دردېدلو

دا ټول اوجود مې رپېدلو

بېګاه مې داسي خوب ليدلو

تا رانه سره ډولۍکې بل کلي ته وړينه

په ما دې څه جادو دی کړي

ژوند دې زما په غم لړلي

بس تش شوګير دي رابخښلي

خوب دې زما د سترګو وړي

ټوله شپه ويښ يمه انځور دې ښکلوومه

ولي به زه نه خفه کيږم

ورځي نه بلي ته خواريږم

په ځان پوهيږمه زبريږم

خود به په سرو سترګو ژړيږم

چې مې جانان د خوږي مينې منکر شونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ به په ما توره تياره شي

بس چې رنګينه دې شيبه شي

د پلار ارمان به دې پوره شي

بل يو هلک ته به کوژده شي

ماته به پريــــږدي په دلـو دلـو غـــــمونه

فضا خاموشه وه هر خوانه

بل څوک نه و بې له تانه

ښايسته شيبه وه په ما ګرانه

په خوب کې راغللي جانانه

شونډې دې راکړې ليونى دې کـــړم ميينه

دا به د کوم جرم سزا وې

خوشحالې کمه به زما وې

دا به پاک الله رضا وې

اشنا نصيب کې به مې دا وې

چې چا له ځـــــــم هغه ټکري راکوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تا مېښن يم نازنينې

د کاره ويستې يمه ستا مينې

په پلار دې گرانه يې حسينې

مدام مې ښخې د زړگې وينې

کافري زړه کې دې هيڅ رحم نه راځينه

په زړه مې بل شي سره اورونه

چې مې راياد شي تير وختونه

تا به کول له ما سوالونه

د ماشومتوب ښکلې وختونه

په خړ ماښام کې ستاسي کور ته به درتلمه

يم غورځيدلې له گړنگه

ده زنده گې زما بې خونده

زه يې ويستلې يم له ژونده

دغه د سري جوړي خاونده

رالــه بل کړي دي په زړه بانـــدي اورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرو سوچونو لیونی کړم

ستا ستمونو لیوني کړم

دې سختو زړونو لیونی کړم

یو مې درسونو لیونی کړم

بل ســــتا یادونه مې روزګار ته نه پرېږدینه

خپله یې وکړه زورور شو

په غریبي چې مې خبر شو

په دي له مانه مرور شو

اوس مې له مینې نه منکر شو

بې وفا څه شو ستا د دروغو قســـمونه

له ما نه لري بس جدا شوي

ای وفا ولې بې وفا شوي

زما له مینې بې پروا شوي

خپلو لوظونو نه په شا شوي

زه لیونی دې په وعـــــدو تیروتې ومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا يو ديدن زما ارمان دي

زړه مې په تا پسي وران دي

ظالمي دغه مې ګزران دي

بغير له تا مې عمر ګران دي

زه به دا ګران عـــــمر تر کومه تيرومه

عمر به دغسي خپل تير کړم

يو څه موده به دې ياد هير کړم

ځان به غمونو کې راګير کړم

يو کال به بل وطن کې تير کړم

چې ته واده شـــــوې بيا به کلي ته درځمه

دا مو ترمنځ وړي کيسي دي

خومره ښايسته وړي شيبي دي

د محبت خوږي نغمي دي

راته لايادي هغه شپې دي

چې په تنکۍمينه يـــوبل نه شرميدونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بی مینې وخت کله تیریږي

د چا خیره مې نه هیریږي

هرڅوک به ځان سره غږیږي

خوهغه رنګ مې ډیر خوښیږي

چې د هـــغي د لوپټې په شانتي ویـــــنه

ماته د لـري په خندا شه

مه کړه خفګان نور په رضا شه

بس ای! مروره راپخلا شه

جانانه زموږ کلي ته راشه

موسم بدل دی شړشم زیړ ګلــــــونه دینه

راته راګوره بس خندا که

ودانه زما د زړه دنیا که

بس پرهرونه مې دنیا که

ظالمې شونډې او راته راکه

له میاشتو میاشتو سوال زارې درته کوومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه کې دا به مې کوله

سترګو کې غلا به مې کوله

ډېره خندا بـه مې کوله

اول دعا بــه مې کوله

اوس مې زخمې زړګی خـــیري درته کوینه

بس لاس وهمه په ګبین کې

جانانه زړه به راله شین کې

اخیر به ما په ځان مین کې

خالونه کېږده په جبین کې

بیا راښکاره شه چې دي وکـــړم دیدنونه

بس په ما ګراني زوروړې

په مخه ښه دې شه دلبرې

رب فیصله وکړه له برې

د بل په نوم شوي جادوګري

خو زه به پاتي ژوندون خــــنګه تیروومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوجود ځومره پې نرى کړم

روغ وم خو سم پې ليونی کړم

په اور پې سوي سپيلنی کړم

غم دې په زړه باندې سورى کړم

قطره قطره ويني ترې ځـــې درد راکوينه

ستا په هرڅه به خبريدمه

چې ستا به ولي هيريدمه

له بي وسۍ به درديمه

ستاسو په کلي تيريدمه

ته مې راياده شوې ښه ډيـــــر وژړديـمه

ازغې ګلان به په ژړا شي

هم عاشقان به په ژړا شي

بيا رقيبان به په ژړا شي

ټول ګاونډيان به په ژړا شي

که مې خبر له درديدلي کـــــيسي شونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوره يو وخت به دې کار شم

له دې غمونو چې وزګار شم

که ستا د سپينې غاړې هار شم

د تورو سترګو نه دې جار شم

خواږه خوارږه دې راکـــتل ميبن دې کړمه

نور مې له ښکلو نه زړه تور دی

رالـه سيزلی يې په اور دی

ښکلې ځوانۍ ته مې پيغور دی

د غمازانـو ظـلم زور دی

زما د سپيني خولګۍ يـــار رخصتويـنه

چيري پوره نه شوي ارمانه

نيمګړي ژوند کې سرګردانه

ګرځم ديدن پسي دې ګرانه

خير که زما نه شوي جانانه

زه به تر عمره انتظار درتـــــه کوومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه خو تا کړه ما خونه کړه

اخر چې لنډه دې په څه کړه

زړګیه ته ورته خیره کړه

خدای دې پداسې مرګې مړه کړه

چې ځنکدن دې څلورنـــــیمې میاشتې وینه

درېسې اچوم د زړه وینې

نظره مه شې نازنینې

سم لیونی کړمه ستا مینې

د زړه مې نه وځې شیرینې

که هر څو وکړمه د صـــــــبر تعویذونه

اه قدردان رانه جدا شو

ډیر لوي ارمان رانه جدا شو

د زړګې خان رانه جدا شو

کم زړه "ریحان" رانه جدا شو

اوس به ژوندون د لیونو په څیر کـــوومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس تصویران دې شکوومه

هره توټه یې سـوځوومه

جانانه نور دې هـیرومه

درسره دا وعده کـوومه

نور که ژوندي وم په طــرف به نه درځـمه

په څه نا څه به یې رضا کړم

زه به یې ځان سره پخلا کړم

خپل زړه به صبر نور له تا کړم

دا اخیرې مسره بـه دا کړم

جانانه خـپل کار دي کوه خـــپل به کوومه

بله ډیوه د بل په نوم شوه

هغه وړه د بل په نوم شوه

خوره وره د بل په نوم شوه

لاړه هغه د بل په نوم شوه

چـا چې زما زړه کې جــــوړ کړي وو محلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې له تا ګرانه ګوزاره شوه

په زړه کې ويره راسره شوه

بس چې زما په ننداره شوه

کږه وږه ګوډ کې ښکاره شوه

د ظالم لـــور وه زه يې کـــوږ په لاره کړمه

په هر لمانځه مې دا دعا ده

همـيش دي اوسې تل اباده

دغه زمـا دزړه درزا ده

سپوږمۍ ته ګورم شي رايادة

په زړه ظالمې تا به خـــنګه هـيروومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه کې

مخکې وره وې، ښومره ښایسته وې

چې چیرته وم، هلته به ته وې

په مینه پوهه او که نه وې

نرۍ خندا دې په زړګي خوږلي ومه

***

بس چې ښایسته یې، په ټول پوره یې

زه به دې څه کړم ، که ته خوږه یې

ګرانې په نوم مې ناسته نه یې

څکه کووم درپسې سوي فریادوونه

***

یو تنهاې شې، بل جداې شې

په زړه غمونه، مې دلالې شې

ختمه مې ټوله خوشحالې شې

چې دې راياد کـړمه راکړي پیغورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوې نازونه،راکې زخمونه

د شپې زما ، نشته خوبونه

واپس دې واخله تصویرونه

چې ته مې نه شوي په تصویر دې څه کومه

***

څومره اوتر شوم،په حال بدتر شوم

له خپل نصیبه ،او مرور شوم

ستا له کوڅې نه چې خبر شوم

په ځمکه ښکته پریوتـم بیهوشه شـومه

*********

پای

23/2/ 1398

ننگرهار پوهنتون

مرکزې لیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

**د ثور درويشتمې شپې ته چې تر سهاره مې رونه تيره کړه!**

**ج: ريحان**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**